مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ذبیح الله خوګیانی ۲۰۲۳/۲۱/۰۸/۲۱

# د هیواد مشرتابه ته وړاندیز

د نړۍ پر مخ بیلابیل هیوادونه د تکنالوژۍ په برخه کښی ډیری لاسته راوړنی لری. د هغوی څخه یو د نړیوالی انترنیټی ځانګی څخه په ګټه اخیستلو د سایبر پر بنسټ د خدماتو ځانګه ده. سایبر چی موږ ورته د انترنیت نوم هم ورکولی شو یو هغه ځانګه ده چی په مجازی نړۍ کښی د کمپیوټرونو سره نښتی ځاله په کارول کیږی او د کلود یا Cloud Computing یا انترنیتی محاسبه نوم ورته ورکول کیږی .

په دی تیرو لسیزو کښی د سایبر څخه د ګټه اخیستلو نهایی لاسته راوړنه دا ده چی د جګړو او د نښتو ډګر اوس یو نوی څیره او څرنګوالی ځانته موندلی دی.د پخوا په شان ده مخالف ډلی نور دی ته ضرورت نه لری چی د شخړو، سیاسی، مفکوروی، پانګه اچونی اړوند، اقتصادی، او یا د نورو مختلفو مذهبی یا د ارضی تمامیت د لویولو او د فزیکی ځمکو د لاسته راوړنی په موخه د فزیکی سرحداتو پراخولو په خاطر په فزیکی شکل یا مخامخ لاس او ګریوان، او یا حتی د نږدی واټنونو څخه یو پر بل د توپکو او ګولیو ګوزاروته، او یا حتی مسلح ډلی په فزیکی شکل یو د بل د وینی د تویولو په موخه د لیری واټنونو څخه یو پر بل فزیکی د مرمیو،ګولیو، بمونو، او یا نورو مسلح پرغلونو څخه کار واخلی .

د دی پر ځای چی یو هیواد څپل مسلح پوځ د بل هیواد مسلح پوځ د نسکورولو په موخه د انسان وینه و بیوی، نن ورځ جګړه او د جګړی رنګ او څرنګوالی سایبر نښتو یا Cyber Battle ته اوښتی دی.

د انترنیټ له لاری د یو ګروپ، ساحی، او یا حتی د یو هیواد یا د یو جغرافیایی محدودی ټول امکانات کیدی شی محو او نابود (یا غیر فعاله شی). د مخابراتی انترنیتی کرښو څخه، بیآ تر د بانکی، مالی، اقتصادی، اجتماعی، اداری، او د حکومتی او دولتی خدماتو او د برق د رسولو ګرید یا جوړښتونو باندی انترنیتی پرغلونه نظر فزیکی پرغلونو ته ډیر خطرناکه او د ډیری لوړی کچه تاوان او زیان د وررسولو قابلیت لری. دا مهمه نه ده چی په څپیره د چا مخ سور کړو، یا په بوکسونو او لګتو د چا ملا وماته کړو. د جګړی نوی تصویر د سایبر امنیتی چارو له نقطی نظره د Cyber Security اساساتو په پوهیدو، کیدی شی چی د هکګ یا Cyber Hacking له لاری یو هیواد باندی دیجیتل یا کمپیوټری پرغلی سرته ورسیږی .

په دی اساس، د دی زمانی د غوښتنو سره سم، د هیواد مخابراتی، تخنیکی، کمپیوټری، او نور ساینسی ځانګو ته باید له هر بل وخت څخه ډیر اهمیت او اولویت ورکړل شی. د آسترالیا د حکومت په جوړښت کښی نوی وزارت چی د Ministry of Internal Affairs & Cyber Security یا د داخله او انترنیتی امنیت د وزارت په نامه دی،د نړۍ لپاره باید یو مثال وګرځی. د ډانلد ترمپ د دوران د نورو کړونو تر څنګ، یو قانون چی هغه د امریکا د متحده ایالاتو په قوانینو کښی وراضافه کړ هغه دا دی چی د سایبر جګړو یا Cyber Battle قوانین یی له سره وکتل او ټول عامه تحسیسات لکه د مخابراتی سیستم جوړښتونه، بانکی او مالی اقتصادی بنسټونو انترنیتی جوړښتونه، او د برق د Electric Grides یا د برق د حمل او نقل سیستمونه یی د سایبر جګړو د تور لست څخه د باندی راوویست. دا په دی معنی چی په راتلونکی کښی به د جګړو څیره او ډول بدلیږی او هیڅ یو ساختار به د انسانانو د حقوق بشر د پیژندل شویو اساستو پر بنسټ له خطر څخه لیری او د باندی نه وی .

علم او تحصیل د اسلام په مقدس دین کښی پر ټولو (نارینه او ښځینه) فرض کَیل شوی،راځی چی دغه برخه کښی له نو آوریو او بدعت څخه لاس واخلو،نور کړاونه او مشکلات د هیواد به په قراره یو د بل پسی حل شی. خو د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تعلیم او تحصیل د بنسټونو دروازی نه یواځی چی باید سم د لاسه راخلاص او فعال شی، باید تر هر بل وخت ډیر پاملرنه او توجه ورته وشی .

نړی مخ پر وړاندی روانه ده، د امریکا د متحده ایالاتو په دننه کښی تیره ونی د NICE په نامه لوه غونډه وشوه، په دغه غونډه کښی ټول د عالی تحصیلاتو ځانګی او تعلیمی مراکز راغوښتل شوی وو، د دی ناستی په ترڅ کښی دا جوته شوه چی د انترنیتی امنیت یا د Cyber Security په برخه کښی د امریکا متحده ایالات خاص پروګرامونه د لاس لاندی لری،تر څو د وخت په تیریدو د دی هیواد نوی نسل دی ته چمتو وی چی د هیواد څخه د جګړی د نوی بڼی په برخه کښی د ټولو نورو هیوادونو په پرتله ډیر آماده او چمتو اوسی. د نایس د پیشنهاد په اساس، د لیسی څخه وروسته زده کونکو ته د څلو کالو خاص Cyber Security روزنه ورکول کیږی او د ۵ کالو په موده کښی به دغه ځوان نسل ته د یو لک ډالرو څخه اضافه د کلنی معاشاتو تمویل برابریږی. دا ټول د دی هیواد د مشرتابه د پراښ لیدلور یوه نمونه ده چی راتلونکی له هیره نه اوباسی .

په دی برخه کښی د هیواد د مشرتابه، او د اړینو ځانګو خاص توجه غواړم او په دی هیله چی مجرب، کارپوه، او مسلکی کسانو ته دا زمینه مساعده شی چی د هیواد د راتلونکی په برخه کښی تر هر وخت لا ډیر هڅه او زیار وکړی.د دی ډول پروګرامونو د تنظیم او ترغیب په موخه د هیواد له مشرتابه څخه د خاص بودیجی بیلول، دغه برخی ته د لوړ پوړو چارواکو لخوا مکمل ملاتړ ښکاره کول به په دی برخه کښی لمړنی مثبت قدم وی.

په درناوی

د امریکا متحده ایالات، د کلفورنیا ایالت

د ۲۰۲۲ کال د جون د میاشت ۱۹ نیته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ